مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۴/۰۱/۱۸

# د نرګس دت

## او خوشونت سنګ ملګرتیا

نرګس دت (۱۹۲۹ــــ۱۹۸۱) چې اصل نوم يې فاطمه رشيد و او له يوې مسلماني کورنۍ سره يې اړه درلوده؛ د سنجي دت مور او د فلم جوړونکي سنيل دت ميرمن وه.

د هندي او پنجابي ژبو مخکښ اديب او شوخ ملګري خوشونت سنګ (۱۹۱۵ــــ۲۰۱۴) يې په اړه يو جالبه خاطره ليکي:

"نرګس دت راته وويل: په (سناور) کې ستا بنګله ده او هلته زما زوی سنجی (سنجي دت) لارنس ښوونځي کې درس وايي، نو زه کولی شم چې ستا ودانی کې واوسېږم.

ما وويل: ته زما په خپل کور کې هم اوسېدلی شې، خو په يو شرط...!

هغې په ويرې وپوښتل: څه شرط؟

ــ دا چې له دې وروسته به ما ته اجازه وي، چې خلکو ته ووايم: نرګس زما په بستر ويده وه.

هغې په خندا لاس را اوږد کړ او ويې ويل: لاس دې راکړه.

او په دې سره موږ ملګري شوو."

ژباړه: سمسور ودان



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ